SHARIAT

شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپریږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال ځلور شپیته گڼه پرله پسې (۳۵۱) سه شنبه ۵ ۱۴۲۱هـ ق کال دجمادي الثاني (۷) د۱۳۷۹هـ ش کال د وږي دمیاشتی(۱۵) د۲۰۰۰میلادي کال د سپتمبر (۵)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا (پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

طي سال جاري :

فابریکه نساجي افغان پلخمري ۱۸۹۶۰۰۰ متر تکه هاي مختلف النوع را تولید نموده است

ارتقاء سطح تولید، بهبود در کیفیت تولیدات و رفع مشکلات کارمندان فني فابریکه در محراق توجه ا.ا.ا قرار دارد

بغلان - باختر :

فابریکه نساجي افغان پلخمري پنجاه و چهار سال سابقه تولیدي در کشور دارد که طي این مدت تمام وسایل تجهیزات و دستگاه هاي تولیدي این فابریکه استهلاك گردیده ولي انجنیران و کارکنان فني و تخنیکي فابریکه در اثر سعي و تلاش با استفاده از امکانات دست داشته نه تنها دستگاه تولیدي فابریکه را فعال نگهداشته اند بلکه در ارتقاء سطح تولیدات و کیفیت منسوجات نیز بذل توجه نموده اندکه در اثر همین مجاهدت ها بود که در طول پنج ماه سالجاري پنجاه و هفت فیصد در

ص ٤

په لغمان کی :

دوه جریبه ځمکه د بنگو له بوټو پاکه شوه

لغمان باختر

د تولنیزو مفاسدو د بیخی له منځه وړلو او په تیره بیا د مخدره موادو د کرکیلی د مخنیوی په کار کی د هیواد د مرکز او ولایتونو په مربوطاتو کی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د موظفینو د پراخو او نه ستړی کیدونکو هلو ځلو په دوام په دی وروستیو وختو کی د لغمان ولایت د امر باالمعروف او نهی عن المنکر ریاست او د ص ٤

علي الرغم تعزیرات سازمان ملل متحد :

کمک هاي بشري خود را به امارت اسلامی ادامه دهد

دولت سویس حاضر است

این کمك ها شامل فعال ساختن سیستم آبرساني، حفظ الصحه محیطي، تعلیم و تربیه، باز سازي، مجادله با فقر و کمك هاي اولیه به شفاخانه ها ، دارلایتام ها و مدارس میباشد

در شفاخانه هاي کابل مخصوصاً شفاخانه رابعه بلخي، ملالي زیژنتون و وزیر اکبر خان عملاً خانم ها مصروف خدمات صحي میباشند

آنچه که مشاهده نمودم حقایقي بود که برخلاف تبلیغات جوامع غربي در افغانستان صورت میگیرد

معاون شاروالي ژنیو

کابل - باختر :

معاون شاروالي ژنیو که اخیراً وارد کابل گردیده طي مصاحبه یي به خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گفت : علي الرغم ادامه وضع تعزیرات از سوي سازمان ملل متحد بالاي مردم افغانستان ، دولت سویس مصمم است تا به کمك هایش در عرصه هاي ص ٤

شفاخانه چک وردک از جمله پنج شفاخانه مجهز در سطح کشور میباشد

این شفاخانه از سال ۱۹۹٤ الی ۱۹۹۹م به تعداد (۱٦۰۰۰۰) مریض را معاینه و تداوی نموده است

شریعت : خوانندگان نهایت عزیز و گرامي! شفاخانه ولسوالي چك ولایت میدان وردك که در سال ۱۹۸۹ م ایجاد گردیده است بر علاوه عرضه خدمات صحي براي حدود ٤۰ هزار تن باشندگان محل، مریضان ولایات همجوار و دور دست کشور را نیز با شرایط سهل پذیرفته و بطورمجاني و رایگان تداوي مینماید.

در این شفاخانه یك خانم از کشور ... ص ۲

... شفاخانه چک وردک که بطور پخته و اساسی اعمار گردیده است عکاسی یوسف

د هرات له محبس څخه :

٦ تنه بندیان آزاد شول

هرات - باختر :

شپیته تنه بندیان پرون له بند د هرات ولایت د محبس څخه آزاد شول.

د کورنیو چارو وزارت د بندیانو لوی رئیس محترم مولوی عبدالمالک نقی په مشری ص ٤

د اومر موسی د اوو تنو ماین پاکانو قاتل ونیول شو

هرات - باختر :

د افغانستان د اسلامی امارت مخالفین چی د جنایت له تر سره کولو او شرارت پرته بله دنده نلری خپلو انسانی ضد هدفونو ته د رسیدو په خاطر چی بوازی قدرت ته ٤ مخ

په کابل کی د اومر موسسی :

د ماین خبرتیا روزنیز ورکشاپ پای ته ورسید

شریعت : د اومر موسسی د ماین خبرتیا هغه ورکشاپ چی د سپتمبر میاشتی پر دویمه نیټه د سهار پر نهو بجو د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو پر تلاوت او د اومر موسسی د شهیدانو روح ته ٤ مخ

ایران از همه اتباع خود تقاضاي عودت بکشور نمود

منابع خبري - باختر :

دولت ایران دیروز از اتباع آنکشور که بعد از انقلاب اسلامي سال ۱۹۷۹ از کشور فرار کرده اند تقاضا کرد تا بدون ترس و بیم ص ٤

به سلسله گزارشات خبرنگار «شریعت» :

شفاخانهء وزیر اکبرخان یکي از شفاخانه هاي مهم وفعال در شهرکابل بشمار میرود

شریعت : همین اکنون شفاخانه وزیر اکبر خان با داشتن شعبات جراحي عمومي اورتوپیدي، داخله عمومي، شعبه OPD شعبه، فیزیوتراپي، شعبه اکسریز، لابراتوار و دو دواخانه فعال و پرسونل طبي و خدماتي ورزیده و سابقه دار شب و روز به صورت مجاني در خدمت مریضان قرار دارد.

خبرنگار ما از ص ٤

د یوی چاودنی له امله :

په روسیه کی دوه تنه مړه او دری تنه نور ټپیان شول

د روسیی په یوه ښار گوټی کی د چاودنی له امله دوه تنه ووژل شول او دری تنه نور ټپیان شول.

د روسیی د بیړنیو حالاتو وزارت وویل: دغه چاودنه ددغه هیواد د ریاسان ښار گوټی په یوه بازار کی وشوه.

دغه ښار گوټی د مسکو د جنوب په یو سلو پنځوس کیلو متری واټن کی دی.

تر اوسه پوری ددغی چاودنی علت او انگیزه نده معلومه شوی.

نمایي از شفاخانه وزیر محمد اکبر خان در کابل که شب و روز در خدمت مریضان قرار دارد عکاسی یوسف

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

په هیواد کی د بهرنیو پانگه والو لپاره زرینه موقع

دوه دری ورځی مخکی د پاکستان یو شمیر پانگوال او صنعتکاران په افغانستان کی د کار او پانگی اچولو موضوع د څیړلو لپاره کابل ته راغلی وو او د اسلامی امارت له مشرانو سره یی لیده کاته وکړل په د ی هکله د اسلامی امارت له خوا هغوی ته بشپړ داډ ورکړل شو چی که هغوی څه اقتصادی پروژی شروع کول غواړی نو د اسلامی امارت له خوا به ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : غلام محمد فاروق
ديوي گڼي بيه : په هيواد کې (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کې (۳) کلداري
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱- توزيع او شکايات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتي برخه

هر اړخيزې مرستې ورسره وشي که څه هم لا ډير مخکې بايد دا کار شوی وای او د پاکستان په شمول د ټولو گاونډيو او ـ نورو هيوادو پانگه والو له دې موقع نه استفاده کړې وای او زمونږ په هيواد کې يې چې د روسي يرغل په نتيجه کې په کنډواله بدل شوی گټوري اقتصادي پروژې تر لاس لاندې نيولې وای، چې دا کار به هم زمونږ او هم د هغوی لپاره د گټې او پرمختگ لامل گرځيدلی و خو له بده مرغه ځينو گاونډيانو د سولې، کار او پانگې اچونې په ځای د جگړې په اور بلولو کې ډيره گټه ليدله او په مليونو روپۍ يې په دې لار کې ولگولې، خو په هر صورت اوس هم لا وختي دی .

خدای دې وکړي چې ټول گاونډيان دې ته متوجه شي چې استعمار او مغرض هيوادونه هيڅکله نه غواړي زمونږ سيمه ودانه او د اقتصادي پرمختگ په لور حرکت وکړي، هغوی تل دا هڅه کوي چې دا علاقه بې ثباته او کاواکه وښيي او پانگه وال انديښمن کړي چې گټې اوس د کار او پانگې اچولو مهال نه دی ، مغرضو هيوادونو ددې مقصد لپاره پراخ تبليغاتي کمپاين پيل کړی او په دې ډول غواړي چې د گردې نړۍ پيسې د لويديځ ناروا سودي نظام د گټې لپاره په کار ولويږي او بيا همدغه پيسې بيرته په ډير لوړ سود د غريبو هيوادو ته قرض ورکړي او په دې شان ټول تر خپل اقتصادي کنټرول لاندې راولي، نو له همدې کبله ټول پانگه وال خصوصاً مسلمانان ښايي دې ټکي ته ښه ځير شي، د پوچو او بې مانا پروپاگنډو ښکار نه شي، په داډه زړه په افغانستان کې پانگې واچوي او له سوده پاک نظام څخه حلاله گټه لاس ته راوړي ،

نن سبا افغانستان ددغسې اقتصادي پروژو لپاره يو ډير مناسب ډگر دی نو بايد په دې هکله ښه اغيزمن عملي گامونه واخيستل شي، پانگه وال دې بالکل ډاډه وي چې هيڅکله به هم دوی ته څه ستونزې جوړې نه شي او هغه بې ځايه تور او تهمت چې له هرې خوا شپه ورځ تکراريږي، حقيقت نه لري، دلته په بشپړ ډول امنيت تأمين او د کار ښه زمينه مساعده ده د پاکستان ولس هم چې له مونږ سره په ډيرو مواردو کې گډ تاريخ او کلتور لري او هميشه د بهرنيو استعمارچيانو له خوا په ډاگه تر يرغل لاندې راغلي يو، بايد د غرضي خبرو په مطلب ښه وپوهيږي او د دواړو ولسونو د منافعو په لار کې د بل چا له خوا دوکه نه شي .

انشاء الله د افغانستان اسلامي امارت په بشپړ ډول پر وضع حاکم دی او د هغو خوا و غرضي لاسونه به ډير ژر غوڅ کړي چې د هيواد ملي گټې په خطر کې اچوي . لنډه دا چې مونږ ټولو پانگه والو ته ډاډ ورکوو چې افغانان د داسې پروگرامونو کلک ملاتړ کوي چې د هيواد د پرمختگ او سمسورتيا باعث گرځي .

د گازنل ليکې ايسارتيا لپاره رنگارنگ هڅې

په دې وروستيو ورځو کې د ترکمنستان د ولس مشر ځانگړی استازي، پخوانی خارجه وزير شيخ مرادوف په افغانستان کې د سولې د ټينگښت او جگړې د پای ته رسولو د لارو چارو څيړلو لپاره تهران، کندهار، اسلام اباد او دوشنبې ته يو لړ سفرونه درلودل، نوموړی د سولې تر څنگ دا باور هم وکړ چې د افغانستان له لارې د گاز نل ليکې د غځولو په هکله يې هم له يو شمير عربي کمپنيو څخه ډاډ تر لاسه کړی او ښايي د سولې په راتلو دا پروژه ډيره ژر پيل شي او د يرغل کار خو بيخي تيار دی چې د افغانستان شمال لوېديځو سيمو نه علاوه د پاکستان تر چمن او کوټې به هم وغځول شي دا چې په دغسې پروژو کې د افغانستان څومره اقتصادي گټې نغښتې او څومره بې روزگارو خلکو ته به د کار زمينه مساعده کړي، زمونږ کينه کښو دښمنانو ته بې ښه اندازه لگيدلي ده او له همدې کبله ټولې هغه خواوې چې د هيواد د نظرياتي پولو څخه پښې اړوي، او د هيواد د ويشلو لپاره يې ډيرې هلې ځلې کړي د خپلو بهرنيو ملاتړو په مرسته ددې پروگرام د ځنډولو او يا غوڅ اسرولو په لاره کې نه ستړې کيدونکې هڅې کوي روسان وايي : «دا ډير لوی کار دی خو بې سلو کلو هم امکان نه لري...!»

ايران وايي : «د گاز نل ليکه ډيرې ستونزې لري، تر څو چې په افغانستان کې په بشپړ ډول جگړه نه وي ختمه شوې، د ټولو مليشو يو گډ قانوني حکومت نه وي جوړ شوی! او ...» دا ډول اقتصادي چارې سرته نه شي رسيدلای»

او مخالفين وايي : دا خو ډير گټور پروگرام دی مگر د پيل کولو لپاره به يې مخکې تر مخکې د افغانستان د قانوني دولت! څخه اجازه اخيستل شرط وي » په همدې ډول د کورنيو او بهرنيو دښمنانو له خوا وخت په وخت بيلا بيلې خبرې ددې مدعا قوي دليل دی چې هغوی هيڅکله هم د گاز نل ليکې غځول او د هيواد د ودانې په لور دا لوی

فاروق

گام نه شي زغملای او تل به هڅې کوي چې نوموړې پروژه ايساره او بالاخره ترکمنستان په دې اړ کاندي چې له کومې بلې لارې يې وغځوي.

په هر صورت د سولې لپاره د ترکمنستان د وروستيو هڅو په لړ کې اسلامي امارت ډير مثبت دريځ خپل کړی او په دې هکله يې ډيره ليوالتيا څرگنده کړې خو له بده مرغه دا ځل بيا هم د ځينو گاونډيانو او هم زمونږ د خپلو مخالفينو له خوا ډيرې سرې سرې تبصرې کيږي په تيره بيا مخالفين خو نږدې دي چې د خبرو اترو لپاره له خپله لورې لا څه شرطونه هم کيږدي، مثلاً دوی وايي : خبرې دې د ملگرو ملتو په چوکاټ کې وي، شپږ جمع دوه هيوادونه (چې زياتره يې همدوی ته وسلې او پيسې ورکوي) دې هم پکې گډ وي او لا زياتې دا چې له اسلامي امارت سره خو د واک شراکت بيخي نه منو نو په زغرده ويلای شو چې ددې ډول خبرو اصلي او ريښتينی لنډ مطلب يې له شکه همدا ده چې زمونږ د هيواد دښمنان د افغان ولس تباهي او بدمرغي غواړي او هيڅکله نه شي زغملای چې يو ودان او سمسور افغانستان ووينې او له همدې ځايه د ټولو هغو افغانانو چې ددې هيواد او ولس په هکله دردمن او خواخوږي وي او د هيواد د نظرياتي او ځمکنيو پولو ساتونکي وي دروند مسؤوليت را څرگنديږي، او په کار ده چې ټول افغانان دغې موضوع ته د يوې ستړې ملي مسألې په توگه وگوري او د هغو خواو کرغيړنې څيرې وپيژني چې له هر څه تيران د هيواد او هيواد والو د آبادۍ او هوسايني سره مخالفت کوي او له ټولو دريځونو څخه يې په مطلق ډول د ټول هيواد او ټول ملت سره د سختې دښمنۍ او بې کچه حسد څرک لگيږي.

شفاخانه چك وردك از جمله پنج شفاخانه...

قرار داشته و کميته، بنام تشويق كمك هاي صحي و بشري براي افغانستان آنرا تمويل ميكند. اين كميته بمنظور كمك و همكاري با شفاخانه فوق الذكر در كشور جرمني ايجاد گرديده و بصورت افتخاري كار مينمايد. خبرنگار ما از قسمت هاي مختلف اين شفاخانه ديدن نموده و پيرامون تاريخچه و كاركرده هاي آن گذارشي را تهيه نموده است كه غرض آگاهي شما عزيز دوستان خواننده تقديم ميگردد.

کميته تشويق كمك هاي صحي و بشري براي افغانستان در ماه فبروري ۱۹۹۳ خاص به مقصد كمك شفاخانه چك وردك واقع ولايت وردك افغانستان ايجاد گرديده دوازده عضو دارد كه تماماً بصورت افتخاري كار نموده و هيچ نوع معاش نميگيرند اين كميته يكي از امضا كنندگان انجمن NGO هاي كه در سال ۱۹۹۳ ايجاد گرديده ميباشد اين كميته يك موسسه غير انتفاعي و غير سياسي داوطلب جرمني بوده كه فراهم كننده كمك هاي مالي و بشري براي مردم افغانستان بدون در نظر داشت علايق سياسي نژادي، ديني و طبقه بندي زن ومرد ميباشد.

شفاخانه چك وردك يگانه پروژه بوده كه CPHA در آن فعاليت دارد.

شفاخانه : پروژه شفاخانه چك وردك در ماه اگست ۱۹۸۹ ايجاد گرديده و از آن تاريخ به بعد به يك شفاخانه كاملاً فعال به سطح ولايت داراي ٤٠ بستر انكشاف نموده كه عرضه كننده خدمات ابتدايي صحي براي اهالي روستايي ميباشد يگانه شفاخانه كاملاً فعال در سطح ولايت بوده و در خدمت حدود ٤٠ هزار باشنده محل قرار دارد.

اين شفاخانه در يك ساحه آرام يك دره مرتفع ۸۰۰۰ فت به فاصله ٦٥ كيلو متر به سمت جنوب غرب كابل موقعيت دارد.

از سال ۱۹۹٤ الى ۱۹۹۹ اين شفاخانه ۱٦۰۰۰۰ مريض را معاينه نموده است كه ۷۰ ٪ آن زنان و اطفال بوده است تعداد اوسط مريضان اين شفاخانه در سال



شفاخانه ولسوالي چك وردك با داشتن بستر هاي مجهز در خدمت مريضان ميباشد عكاسي يوسف

۱۹۸۸ به ۳٤۰۰۰ مريض در ماه ميرسيد كه از ساحات دور مانند كابل و ولايات همجوار مراجعه مي نمودند . تمام مريضان تعليمات عمومي حاصل مينمايند در حاليكه مادران در بخش صحت طفل و مادر تربيه ميشوند. مريضان خارج بستر مكلف به پرداخت يك مقدار پول در مقابل معاينه هستند در حاليكه مريضان داخل بستر به صورت رايگان معاينه ميشوند به پيروي از عنعنات افغاني به يك تن از اقارب نزديك مريض در شفاخانه جاي بود و باش و غذا داده ميشود و مسوليت دارند تا از مريضان خود مراقبت نموده و در كار هاي شفاخانه سهم گيرد.

اين شفاخانه داراي دو OT با دو نفر جراح، اكسري ، التراسوند ECG ، لابراتوار مجهز، دواخانه، يك شعبه فزيوترابي كه توسط UNDP/CDAP به پيش ميرود. يك مركز واكسيناسيون با سه نفر واكسيناتور كه از طرف UNICEF/ MOPH و وزارت صحت عامه به پيش برده ميشود، يك د كستر سار، يك واكسيناتور و يك نفر معلم در بخش تعليمات صحي كه هفته دو مرتبه از قريه جات در دست ديدار مينمايد .

اين شفاخانه يك مركز مجهز را در اختيار موسساتيكه در بخش تعليمات حرفوي كار مينمايد قرار داده است سهولت هاي تعليمي بصورت منظم با استفاده از مساعدت هاي منابع مختلف تزئيد ميگردد بر علاوه تربيه نرس هاي خود شفاخانه و واكسيناتور هاي طبقه اناث پروگرام هاي منظم تربيوي در بخش تربيه دايه ها و كاركنان صحي اناث ORT نيز داير ميگردد. نرس هاي تربيه شده اند كه مريضان را در بخش هاي تعليمات عمومي و حمايه طفل ومادر تربيه نمايند. در صورت عدم موجوديت ديگر امكانات داكتران جهت تازه ساختن تعليمات به كابل يا پشاور فرستاده ميشود و با زمينه ملاقات كاري با داكتران خارجي ميسر ميشود.

الى اواسط سال ۱۹۹۹ تعداد كارمندان ٤۳ افغان بوده كه ۲٥ فيصد آن طبقه اناث ميباشد و يك نفر آمر پروژه كه خارجي است . شش داكتر كه دو نفر آن اناث، هشت نرس (پنج نفر اناث) ، سه نفر واكسيناتور (يك نفر اناث). هشت كارمند ديگر و هژده كارمند غير صحي را دارا ميباشد.

خانم كارله شيفتر آمر شفاخانه چك وردك يك نرس OT از كشور جرمن ميباشد كه از آغاز پروژه از سال ۱۹۸۹ الى اكنون با پروژه بوده و سالانه براي مدت ۹ ماه در ساحه ميباشد. علاقمندي موصوف بهتر شدن وضعيت زنان افغان ميباشد. سپاس از فداكاري ها دوامدار موصوف كه پرژه توانسته در روز هاي دشوار زنده مانده حتي انكشاف كرده و اعتبار خوبي را در بين افغانها و خارج كسابي كرده است.

بودجه كميته بين سال هاي ۱۹۸۹ الى ۱۹۹۲ و بعد از ۱۹۹٤ الى سپتمبر ۱۹۹۷ عمدتاً از طرف EU بوده است از آن تاريخ به بعد پروژه متكي به هبه هاي شخصي از منابع مختلف مانند شعبه روابط خارجي جرمني شهر دارتموند UNDP/ CDAP,UNOCHA, WFP, USAID و غيره بوده است. بودجه مجموعي كميته شامل مصارف در جرمني صرفاً ۲۰۰۰۰۰ دالراست كه در حدود ٥.٥ في مريض ميباشد بر علاوه كمك هاي جنسي متعدد باعث

لابراتوار شفاخانه چك وردك با وسايل و سامان آلات مدرن و عصري مجهز ميباشد عكاسي يوسف

دوام كار ميشود قابل تذكر ايست كه مشكلات بدست آورن بودجه لازمه با در نظر داشت تنقيص كمك هاي جهاني به افغانستان تداوم پروژه را تحديد مينمايد.

با بهترین ها آشنا شوید

آیا میدانید که بهترین بازیکن و بهترین گول زن مسابقات جام اروپا کیها اند ؟

اگر نمیدانید پس بدانید که : بهترین بازی کن جام جهانی فوتبال اروپا در سال ۲۰۰۰ م ذین الدین «ذیلان» با شماره ۱۰ از تیم فرانسه شناخته شد. همچنان بهترین گول زن این مسابقات کیلبورت با شماره ۹ از تیم فوتبال هالند میباشد که شش گول را به ثمر رسانیده است.

جهان ورزش

متصدي : [illegible]

تایسن خپل حریف په ۳۸ ثانیو کی له پښو وغورځاوه

د نړی د سوک وهنی اتل مایک تایسن په یوه په زړه پوری مسابقه کی چی د ۲۰۰۰ میلادی کال [illegible] د نیویارک په یوه پارک کی جوړه شوی وه خپل امریکایی سیال چی لوسوید کس نومیده د ۳۸ ثانیو په ترځ کی له پښو وغورځاو او په ځمکه یې راوپرزاوه.

ده خپل حریف لومړی په یوی سنګینی او محکمی هوک چپ ضربی سره بی موازنی کړ او بیا یې په پرله پسی توګه له ښی او کیڼ لوری نه د بوکس د سختو ضرباتو تر حملی لاندی ونیو. په همدی وخت کی د لوبی د میدان ریفری جان کوبل د مسابقې د درولو په خاطر د دوی تر منځ ودرید.

خو تایسن ظاهراً ځان د مسابقې د درولو له اعلام نه بی خبره وښود او خپلو حملو ته یې دوام ورکړ.

ریفری د دواړو سوک وهونکو تر منځ داسی ښکاریده لکه د غنمو دانه چی د ژرندی د پلونو ترمنځ راشي تر دی چی حتی د تایسن له خوا یو محکم سوک هم وردالی شو. بالاخره تایسن د رینګ په یوه کنج کی په داسی حال کی له حملی نه لاس واخیست چی حریف یې له پښو لویدلی او ریفری هم څو شیبې بې سیکه وه.

مایک تایسن تل د خپل حریف په وړاندی له هوک کین (پرله پسی حملو) نه کار اخلي.

مایک تایسن او س ۳٤ کلن دی دغه ډیره په زړه پوری مسابقه یې له یوه ۱۳ میاشتنی زندان نه وروسته تر سره کړه دی په یاد کی لری چی په تیر دی راتلونکی کی د نړی د سوک وهنی له اوسنی اتل «لیوس لیونکس» سره چی دده سرسخت رقیب دی هم مسابقه وکړی.

لیوس لیونکس څه موده پخوا د تایسن یو ملګری د خپلو د زړنو ضرباتو په وسیله هغی دنیا ته ولیږه. د نوموړی دا عمل تایسن ته د زغم وړ نه دی ان تر دی چی عصبی شوک یې ورته پیدا کړی دی.

چهار تن از ورزشکاران ما شامل اکادمی تکواندوی کوکی ون جهانی گردیدند

اسناد بزرگترین اکادمی جهانی تکواندوی «کوکی ون» برای چهار تن از استادان مربوط از طرف کمیته ملی المپیک توزیع گردید.

محترم عبدالناصر هوتکی نماینده اکادمی تکواندوی کوکی ون در افغانستان در سال ۱۹۹۹ م شماری از تکواندو کاران افغانی را به فدراسیون جهانی تکواندو معرفی نموده بودند که بعد از سپری کردن امتحانات و مراحل قانونی چهار تن از ورزشکاران این رشته هر یک : محترم عبدالناصر هوتکی، محترم فیصل یتیمی، محترم بادام گل و محترم خیر الدین عالمیار توانستند که از این آزمون موفقانه بدر آیند.

در محفلی که چندی قبل به مناسبت توزیع اسناد بزرگترین اکادمی جهانی تکواندوی کوکی ون به اشتراک هیأت رهبری، کارمندان، اعضای فدراسیون و اهل خبره ورزشی در کمیتهٔ ملی المپیک تدویر یافته بود ابتداآیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید. متعاقباً محترم استاد خالد سکرتر جنرال کمیته ملی المپیک و رئیس فدراسیون تکواندو و محترم استاد عبدالناصر هوتکی نماینده اکادمی تکواندوی کوکی ون بالترتیب پیرامون اهمیت و ارزش همچو اسناد معتبر ورزشی به استادان رشته های مختلف سپورتی صحبت های همه جانبه نموده و حاضرین را در روشنی قرار دادند.

سپس اسناد متذکره طی مراسم خاص ورزشی از طرف سکرتر جنرال کمیته ملی المپیک و نماینده اکادمی تکواندوی کوکی ون به استادان نامبرده توزیع گردید.

تیم والیبال سره میاشت قهرمان مسابقات شد

در مسابقات جالب و دیدنی والیبال که چندی قبل بین هشت تیم والیبال راه اندازی گردیده بود تیم والیبال جمعیت عالی افغانی سره میاشت حایز مقام قهرمانی گردید.

این مسابقات که به اساس پروگرام مرتبه فدراسیون مربوط کمیته ملی المپیک در جمنازیوم مدرسه امانی راه اندازی گردیده بود نتایج خوب و قناعت بخش را در قبال داشت.

در مسابقات نهایی دور فاینل که تیم های والیبال جمعیت عالی افغانی سره میاشت و آریانا با هم روبرو گردیدند در نتیجه تیم والیبال سره میاشت ۳ مقابل صفر بر تیم آریانا غالب و حایز مقام اول و برنده کپ قهرمانی مسابقات شناخته شد.

همچنان تیم والیبال آریانا حایز مقام دوم گردید. در ختم مسابقات تحایف، جوایز و کپ های که از سوی فدراسیون والیبال کمیته ملی المپیک تهیه شده بود به تیم های برنده و ممتاز توزیع گردید.

سپورت او پر بدنی او ذهنی وده باندی یې مثبتې اغیزې

سپورت د انسانانو په ژوند کی خورا مهم ارزښت لری او په دی توګه له خپلو ذوقونو سره سم په هغو ورزشی څانګو کی چی د دوی لپاره په زړه پوری وی خپل بدن ته فزیکی روزنه ورکوی دا چی اصلی موخه سپورت دی که څنګه ؟ یا سپورت د انسان د ذهنی قوی په زیاتوالی کی څومره مثبتی اغیزی لری ؟ دغو پوښتنو ته داسی ځواب وایو :

لکه څرنګه چی عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په همدی اړوند په خپله یوه وینا کی فرمایلی دی : « که ورزش د الهی احکامو مطابق او په شرعی لباس کی وی او مسلمان ورزشکاران ځانونه په شرعی لباس او د اسلام د مبین دین له احکامو سره سم برابر کړی او د ورزش په وخت کی لمونځ چی قطعی فرض او د ستر څښتن تعالی امر دی اداء کړی زمونږ د هیواد ویاړ دی څنګه چی سلیم عقل په سالم بدن کی دی په دی صورت کی په زمونږ او د تحریک د ګرانو علماوو له خوا هیڅ ډول مخالفت نه وی، ورزشکاران کولی شی په عالی روحیې سره خپل ورزش ته دوام ورکړی. »

هر انسان باید د خپلو ورځینو چارو تر څنګ سپورت هم وکړی، سپورت نه یوازی جسمی قدرت بلکی فکری یا ذهنی قدرت هم زیاتوی او د انسان د بدن د پیاوړتیا سبب کیږی په کومه اندازه چی د یوه ورزشکار بدن سالم وی په هماغه اندازه د یوه ضعیف شخص په پرتله د اسلامی ټولنی لپاره د ښه خدمت جوګه کیدی شی.

لکه څنګه چی د ورزشکار بدن سالم وی او په خپله بدنی روزنه کی کوښښ کوی په همدی ډول یې ذهنی قوت هم زیاتیږی، زیاتره ورزشکاران په ساینسی او تخنیکی چارو کی د زیات مهارت او برلاسی خاوندان وی البته ځینی داسی کسان هم شته چی په سپورت کی افراط کوی. د داسی کسانو بدن نه یوازی دا چی سالم نه وی بلکی حافظه یې هم کمزوری وی. سپورت باید د یوه ټاکلی مهال ویش له مخی په ټاکلی او مناسب وخت کی وشی نه دا چی ټوله ورځ یا وخت نا وخت سړی په دی کار بوخت شی او پدی توګه له نورو کارونو او د ژوند له اصلی هدف نه ځان لری وساتی. داسی کسان هیڅکله هم خپل اصلی هدف ته نشی رسیدلی سپورت د انسان بدن ته فزیکی پیاوړتیا وربښی تر څو په دی وسیله وکولای شی خپل اصلی هدف ته د رسیدو په لاره کی متین، استوار او محکم ګامونه اوچت کړی او ځان له هر راز لوړو او ژورو سره آشنا کړی نو په سپورتی چارو کی باید تل له اعتدال نه کار واخستل شی.

څرنګه چی د بشریت لارښود حضرت محمد مصطفی «ص» فرمایلی دی : « قوی انسان له ضعیف نه غوره دی » نو هغه ځوانان چی په بدنی روزنه بوخت دی، ددی لپاره چی خپلی ټولنی ته ښه خدمت وکولای شی خپلی ذهنی ودی ته دی هم پام وکړی.

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا — ژباړن : بشار

18

د اصحابو د ژوند پلوشي

عمرو بن الجموح

عمرو بن الجموح د جاهلیت په وخت کی د یثرب له مشرانو، د بنو سلمة المسعود، ساداتو، د مدینی له سخیانو او د ځوانمردی له خاوندانو څخه و.

د جاهلیت په وخت کی د اشرافو حال دا و چی هر یوه به پخپل کور کی د خپل ځان لپاره بت درلود څو چی په دغه بت سره سبا بیګا برکت ومومی، په موسمونو کی د هغه لپاره حلاله وکړی، او په سختیو کی ورته رجوع وکړی!!!

د عمرو بن الجموح بت «مناة» نومیده او هغه دغه بت له یوه ارزښتناک لرګی څخه جوړ کړی و. عمرو د دغه بت ډیر مراعات کاوه، او هغه یې په ډیرو معطرو شیانو غوړاوه.

د عمرو بن الجموح عمر له شپیتو کلونو څخه اوښتی و په دغه وخت کی د یثرب په کورونو کی د لومړنی زیری ورکوونکی مصعب بن عمیر) په واسطه د ایمان پلوشی خپریدلی، او د عمرو دری زامنو مور هند هم د اسلام د منلو شرف او افتخار تر لاسه کړی و حال دا چی عمرو د هغو له ایمان راوړلو څخه خبر نه و.

د عمرو بن الجموح ښځی (هند) وکتل چی اسلام د یثرب په خلکو غلبه کړی ده، او په شرک کی یې د هغی له میړه او څو تنو مشرانو او ساداتو څخه بل څوک نه لیده کیده، هغی د خپل میړه سره ډیره مینه درلوده، او د هغه یې ډیر احترام کاوه او له دی څخه یې ډیره ویره کوله چی میړه یې د کفر په حالت کی مړ شی او د دوزخ اور ته ورننوځی.

په دغه وخت کی عمرو هم دا ویره کوله نه چی زامن یې د پلرونو او نیکونو له دین څخه واوړی او د اسلام د بلونکی (مصعب بن عمیر) په لار روان شی ځکه مصعب په لږ وخت کی وکولای شول چی ډیر خلک له خپل دین څخه واړوی او د محمد «ص» د دین منونکی یې کړی.

هغه خپلی ښځی ته وویل : ای هندی! کوښښ کوه چی ستا زامن د دغه سړی (مصعب بن عمیر) سره مخامخ نشی څو د هغه په باب فکر وکړو.

هغی وویل : په سر او سترګو، آیا خوښه دی ده چی د دغه سړی د وینا په باب له خپل زوی (معاذ) څخه څه واوری ؟

هغه وویل : افسوس تاته، آیا معاذ له خپل دین څخه ګرځیدلی دی، او زه هیڅ پوه نه یم ؟!

د دغی صالحی ښځی زړه په سپین ږیری میړه وسوځید او ورته یې وویل : هیڅکله داسی نه ده مګر کله کله د هغه غونډو ته حاضر شوی دی، او د هغه څخه یې څه زده کړی دی.

هغه وویل : ما ته یې راوغواړه.

کله چی زوی پلار ته راغی، نو پلار خپل زوی ته وویل : هغه څه چی دغه سړی وایی له هغه څخه څه ما ته واوروه.

زوی یې فاتحه سوره له سره تر پایه ورته ولوستله.

پلار یې وویل : څنګه ښه وینا ده! او څه ښکلی ده! آیا د هغه هره خبره همداسی ده ؟!

معاذ وویل : پلاره! له دی څخه هم ښه، آیا خوښه دی ده چی د هغه متابعت وکړی ؟! حال دا چی ستا قوم د هغه سره بیعت کړی دی.

سپین ږیری لږ څه شانتی چپ پاتی شو، او بیا یې وویل : زه دغه کار تر هغه نکړم څو چی می د مناة سره مشوره نه وی کړی، څو وګورم چی هغه څه وایی.

زلمی ورته وویل : ای پلاره! مناة څه نشی ویلای ځکه هغه کوږ لرګی دی او هغه نه څه فکر کولای شی، او نه څه خبری.

سپین ږیری په ډیری تندی وویل : ما درته وویل چی زه بی له هغه څخه څه نکوم. بیا عمرو بن الجموح – مناة – ته ودرید. کله چی به هغو غوښتل چی د مناة سره خبری وکړی نو د دغه بت شاته به یې یوه زړه ښځه ودروله څو دغه ښځه د بت څخه د هغو په ګومان په هغه څه چی هغی ته یې ښودل ځواب ورکړی.

بیا عمرو پخپلی لوړی تنی مناة ته مخامخ په روغه پښه ودرید، او د مناة یې ډیر صفت وکړ، او بیا یې وویل : ای مناته! ته پوهیږی چی دغه بلونکی (مصعب) چی د مکی څخه مونږ ته راغلی یې له تا څخه د بل چا بدی نه غواړی، او هغه ددی لپاره راغلی دی چی مونږ له تا څخه منع کړی، او سره ددی چی ما ورڅخه ښی خبری اوریدلی زه د هغه سره بیعت نه خوښوم، او دا تر هغه وخته چی څو تا سره مشوره ونکړم نو ته ما ته مشوره راکړه.

مناة ورته هیڅ ځواب ورنکړای شو.

بیا هغه وویل : ممکن ته په قهر شوی یې، او زه داسی کار نکوم چی بیا تاته څه ضرر ورسوی نو زه تا د څو ورځو لپاره پریږدم څو ستا قهر سوړ شی.

زامنو ته د مناة سره د پلار علاقه معلومه وه، او هغو ته څرګنده شوی وه چی د پلار په زړه کی د مناة سره مینه په تزلزل او بی ثباتی کی ده او دغه مینه د هغه له زړه څخه مخ په وتلو ده، او دا د هغه د ایمان لاره ده.

د عمرو بن الجموح زامن او معاذ بن جبل د شپی له مخی مناة ته لاړل، او هغه یې له ځان سره واخیست، او د بنو سلمه په کنده کی یې چی هلته چټل شیان اچول کیده وغورځاوه، او بی له دی چی څوک په دی پوه شی خپلو کورونو ته ستانه شول.

کله چی سبا شو عمرو په ډیر ارام زړه خپل بت ته د سلام په غرض لاړ ولی هغه، بت پخپل ځای کی ونه لید نو ویی ویل :

پاتي لري

شفاخانه وزیر اکبر خان یکی از شفاخانه هاي ...

بخش هاي مختلف سرویس اناث باز دید نموده و گزارشي را جهت معلومات همشهریان عزیز تهیه نموده است که با هم میخوانیم :

محترمه دکتورس نسیمه عظیمي متخصص عمومي جراحي و مسوول بخش اناث به جواب پرسش خبرنگار ما چنین گفتند : ابتدا مریضان تازه وارد به شعبه، OPD کلنیك شفاخانه که به داخل تعمیر شفاخانه موقعیت دارد مراجعه نموده ، مریضان عادي بعد از معاینه و اخذ نسخه و ادویه دو باره مرخص میشوند. یك تعداد مریضان که ایجاب تکمیل معاینات را مي نمایند بعد از تکمیل معاینات لابراتوار و اکسریز به اتاق ریکوري انتقال داده شده پلان عملیات صورت میگیرد و مریض آماده عملیات میشود.

اما یك تعداد مریضان بسیار عاجل از قبیل انسداد ، اپندکس، حوادث نا به هنگام راکتي، ماین، واقعات ترافیکي، به صورت عاجل و بدون پلان قبلي عملیات میشوند. از شروع سال تا کنون در شفاخانه وزیر اکبر خان جمعاً در حدود شش هزارو دو صد واقعه عملیات کبیر و صغیر صورت گرفته است.

عملیاتخانه شفاخانه با داشتن وسایل مجهز و نوکریوال شب و روز در خدمت همشهریان قرار دارد .

محترمه دوکتورس عظیمي متخصص جراحي عمومي سرویس اناث شفاخانه وزیر اکبر خان در مورد ظرفیت بستر ها و پرسونل خدماتي شفاخانه به خبرنگار ما چنین توضیحات دادند : فعلاً شفاخانه ۲۶۷ بستر غرض پذیرش مریضان اورتوپیدي، جراحي عمومي و داخله عمومي را در سرویس هاي مختلف اناث و ذکور دارا مي باشد.

قابل تذکر است که در سرویس اناث ۱۵ نرس، ٤ داکتر جراحي ، یك انستزي لوگ و یك فارمسست سه فیزیو تراپي شب و روز در خدمت مریضان اناث قرار دارند.

محترمه نسیمه مسوول بخش اناث در مورد فعالیت هاي شعبات مختلف شفاخانه چنین گفتند : در شعبه داخله مریضان قلبي، تنفسي، کلیوي، و امراض انتاني از سن ۱۵ سالگي به بعد مورد معاینه و تداوي قرار میگیرد.

تعداد مریضان روزانه این شعبه را ۳۰-۳۵ نفر تشکیل میدهد.

درشعبه اورتوپیدي همه روزه شکستگي ها، کسر ها سو شکل ها ، معیوبیت ها از دوران رحم مادر ، معیوبیت ها بعد از حوادث نابه هنگام تحت تداوي قرار مي گیرند. تعداد مریضان روزانه این شعبه را ۳۰ - ٤٠ مریض تشکیل میدهد.

قابل تذکر است که در شعبه جراحي از آغاز سال تا کنون ۲۱٦ عملیه جراحي تنها از طریق همین شعبه صورت گرفته است. تعداد مریضان این شعبه را ۲۰-۲۵ مریض تکشیل میدهد.

باید گفت که شفاخانه وزیر اکبر خان داراي دو دواخانه فعال مي باشد یکي دواخانه پولي کلنیك شفاخانه است که از طریق آن براي مریضان سرا پا OPD ادویه توزیع میشود.

اکمالات این دواخانه را وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان بدوش دارد. دیگری دواخانه داخل شفاخانه مي باشد که از طریق آن براي مریضان داخل بستر ادویه لازم به صورت مجاني توزیع میشود و اکمالات دواخانه از جانب کمیته اي سي آر سي (صلیب سرخ) صورت مي پذیرد.

سلطانه رحیم ایوبي

دولت سویس حاضر است...

مختلف با مردم افغانستان ادامه دهند.

موصوف ضمن قدرداني از مهمان نوازي مسوولین امارت اسلامي نتایج ملاقات ها و مشاهداتش را در افغانستان مثبت و قابل ملاحظه توصیف نموده گفت : من و اعضاي هیأت شاروالي ژنیو از شفاخانه ها، مدارس دارالایتام ها و سایر بخش هاي خدماتي دیدن نموده و آنچه را که از نزدیك مشاهده نمودیم ، حقایقي بود که بر خلاف تبلیغات جوامع غربي با منافع مردم افغانستان گره خورده است.

وي افزود : در شفاخانه هاي کابل مخصوصاً شفاخانه رابعه بلخي ، ملالي زیژنتون، و وزیر اکبر خان عملاً خانم ها در راه خدمت به مریضان و مریضداران فعالیت داشتند و این در قدم اول براي من غیر قابل باور بود، زیرا رسانه هاي گروهي غرب با نشرات ضد و نقیضي شان بالاي همه واقعیت هاي موجود در افغانستان پشت پا زده و بر کتمان حقایق پرداخته اند.

موصوف از وضع تعزیرات سازمان ملل متحد و امریکا که صرفاً مردم افغانستان را با بحران شدید اقتصادي روبرو ساخته اظهار تاسف نموده گفت :دولت سویس حاضر است تا علي الرغم وضع تعزیرات سازمان ملل متحد به کمك هاي بشري اش به امارت اسلامي و مردم افغانستان ادامه دهد که این کمك ها شامل فعال ساختن سیستم هاي ابرساني حفظ الصحه محیطي، تعلیم و تربیه ، باز سازي تاسیسات عام المنفعه ، مجادله با فقر و کمك هاي اولیه به شفاخانه ها و دارالایتام ها و مدارس میباشد.

موصوف یك بار دیگر نتایج ملاقات هایش را با مسؤولین امارت اسلامي اطمینان بخش خوانده و تبلیغات جوامع غربي را نسبت به امارت اسلامي و جامعه کنوني افغانستان به طور کامل رد نمود.

فابریکه نساجي ...

تولیدات فابریکه افزایش آمده است. چنانچه طي همین مدت یك ملیون و هشتصدو نود و شش هزار متر تکه مختلف النوع را تولید کرده اند . ارتقاء سطح تولید، بهبود در کیفیت تولیدات و رفع مشکلات کارگران ، انجنیران و کارمندان فني فابریکه در محراق توجه امارت اسلامي قرار دارد.

دوه جریبه ځمکه ...

علینګار ولسوالی د موظفینو لخوا ددغه ولایت د علینګار ولسوالی په مربوطاتو کی دوه جریبه ځمکه د بنګو له بوټو څخه پاکه شویده .

د یو بل خبر له مخی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر موظفینو د خپلو پر له پسی فعالیتونو او هلو ځلو په دوام په دی وروستیو وختو کی د بنی حصار په سیمه کی نیم جریب ځمکه د بنګو له بوټو څخه پاکه کړه .

د ټولنزو مفاسدو د مخنیوی او د بنګو د بوټو او د نورو مخدره موادو د بیخی له منځه وړلو په کار کی د هیواد په مرکز او ولایتونو کی د امر باالمعروف او نهی عن المنکر د موظفینو پراخی او هر اړخیزی هلی ځلی او فعالیتونه دوام لری.

٦٠ تنه بندیان ...

د اسلامی امارت موظف هیأت چی په ترکیب کی یی د هرات ولایت د نظامی کمیسیون نظامی محکمی استخباراتو حقوقو ، ښاری محکمی ، د جنایی جرمونو په خلاف د مبارزی د آمریت او د مرافعه څارنوالی استازی یکی شامل دی. د یو شمیر سیاسی جنایی او حقوقی بندیانو نسبتی دوسیی وڅیړلی او په نتیجه کی یی شپیته تنه دغه بندیان چی د هرات ښار په محبس کی بندیان و له بند څخه آزاد کړل.

ایران از همه اتباع ...

از تعقیب قانوني به کشور شان بر گردند.

قرار گزارشهاي منابع خبر رساني بین المللي بعد از انقلاب اسلامي سال ۱۹۷۹ به تعداد صد ها هزار تبعه ایراني از کشور شان فرار کرده اند.

در حال حاضر پارلمان ایران لایحه را تحت بحث گرفته که به اساس آن فراریان ایراني را که بعد از انقلاب اسلامي انکشور به کشور هاي خارجي فرار کرده اند مورد عفو عمومي قرار میدهد .

این عفو عمومي شامل آن کساني نیز خواهد بود که از ترس محاکمه شدن به جرایم جزئي از ایران فرار کرده اند. به اساس لایحه متذکره صرف آن اشخاص که به مخالفین ایران پیوسته اند از عفو عمومي مستفید نخواهند شد.

د ماین خبرتیا روزنیز ورکشاپ پای ...

پر دعا پیل شو د اومر موسسی پروګرام منیجر ښاغلی ذکریا پا یاب ورکشاپ پرانیست او د ماین خبرتیا پروګرام نوی پالیسی او ستراتیژی د روان کال په بهیر کی د پیمونو کار او فعالیت ، د محلی ښوونکو د ښتوالی له امله د سوپروایزرانو ، ماستر ټرینرانو دندی او مکللفیتونه او د ۲۰۰۱ کال لپاره د ماین خبرتیا د نوی پروګرام د فعالیتونو بهیر څرګند او د ورکشاپ برخوالو ته یی معلومات ورکړل .

دد د نړیوالو مرستو د کمیټ ریړه وڅیړله او د موسسی د فعالیتونو د همغږی یادونه یی وکړه . وروسی اپریشن افیسر ښاغلی فخر الدین عزیزی د موسسی پر عملیاتی پلان رڼا واچوله له هغه وروسته د اومر د موسسی د کابل دفتر مسؤول مولوی شریف الله ابراهیمی د ماین پیښو او قربانیانو د شمیرنی سیستم د څیړنی او فعالیت په اړه هر اړخیزه رڼا وکړه .

د ورکشاپ په دوهمه برخه کی د ټرینګ سکشن مسوول ډاکټر غلام دستګیر حضرتی د ماین خبرتیا د درسی بهیر او اغیزمنتوب پر لارو چارو ارزښتناکی خبری وکړی او په ساحه کی یی د ټیمونو د ویش او جوړښت په مساله ګروپی بحث وکړ .

د ورکشاپ دویمه ناسته د یکشنبی ورځ د سهار پر نهو بجو د قرآن کریم په تلاوت پیل او ښاغلی شهرت ننګیال د اومر نړیوالی موسسی د نشراتی پروګرام او خپرنیز بهیر همدارنګه د امن محلی د خپراوی په اړه ویناو او ریپوټ وړاندی کړ . وروسی د مزار شریف د ساحوی دفتر مسوول ډاکتر شاولی او ښاغلی حبیب الله د اړوندو موضعګانو په باب خبری وکړی .

بیا د ورکشاپ راپورټرانو ښاغلو وسیم هدوی او انجنیر بسم الله د ورکشاپ د پریکړو او وړاندیزونو فهرست وړاندی کړ .

په پای کی ښاغلی پا یاب د ورکشاپ د ارزیابی په اړه وویل : ددغه ورکشاپ موخه زده کړه او خپلی ستونزی څیړل او د هغو له منځه وړل و دا کار په انفرادی توګه نشوای کیدای د غسی چاری هغه وخت مشبتی پایلی ورکولای شی چی په یوه چوکاټ کی دننه مطرح او تر ګه او هر اړخیز بحث او غور لاندی ونیول شی ، دلته د د چی ګټوری پایلی تر لاسه کیدای شی .

له دی وروسته د ورکشاپ برخوالو د قرآن کریم ختم وکړ او په هیواد کی یی د بشپړی سولی ټینګښت او د سیمز ک په غبایی کی د اومر موسسی شهیدو کارکوونکو ته دعا وکړه .

د اومر موسسې د اوو تنو ...

رسیدل دی خپل هیواد یی ویجاړ کړ او خپل هیواد وال یی په وینو او خاورو لیت پیت او اوس چی د خپل بی شرمه ژوند په وروستیو شیبو کی دی بیا هم له ناولو څیرو څخه پرده پورته شوه او څرګنده شوه چی د اومر د ماین پاکولو د موسسی اوه تنه کارکوونکی هم د همدغو حرفوی جنایتکارانو لخوا په شهادت رسیدلی دی.

د بادغیس ولایت اوسیدونکی حسین د صلاح الدین زوی چی په دی وروستیو وختو کی د امنیتی پوځونو لخوا نیول شویدی په خپلو اعترافونو کی ویلی دی موږ شل تنه و چی زموږ مشرتوب د غازی په نامه یو شخص چی په محمد عسکر هم شهرت لری په غاړه درلود . او په هغی ډله کی چی زه وم رهبری یی دوست محمد کوله ، نعیم خان او ضابط رفیع هم ددغه باند له مهمو کسانو څخه دی دا ټول په جمعیت پوری اړه لری او موږ دغه عملیات تر سره کړل.

دغه حقایق په ډاګه ثابتوی چی د اسلامی امارت مخالفین خپل ناوړه هدف ته د رسیدو په خاطر له هیڅ راز جنایت څخه ډډه نه کوی. خو نړیوالو د ملګرو ملتو سازمان او د بشر د حقوقو سردمدارانو ددغو ټولو جنایتونو په باب چوپه خوله غوره کړیده .

در فرانسه وقوع دو انفجار موجب بروز آتش سوزي گردید

وقوع دو انفجار در یکي از تصفیه خانه هاي نفت فرانسه موجب بروز آتش سوزي گردید.

بگزارش تلویزیون فرانسه آتش سوزي که دیشب در یکي از تصفیه خانه هاي نفت در نزدیك شهر لوهابر فرانسه شعله ور شد بسیار شدید بود اما به هیچ کسي آسیب نرسید. مقامات مسوول در مورد علت وقوع انفجار هاي متذکره تا کنون توضیحات ارایه نکرده اند.

تنظیم کننده گان امور بانکي سویس بانکهاي آنکشور را مورد انتقاد قرار دادند

منابع خبري - باختر

تنظیم کننده گان امور بانکي سویس دیروز چندین بانك آنکشور را که حسابات بانکي سونیا حکمرواي قبلي نظامي نایجریا را تسلیم شده اند مورد انتقاد شدید قرار دادند.

طبق گزارشهاي منابع خبر رساني بین المللي نایجریا گمان میکند که سونیا و شرکاي او در جریان اقتدار خود مبلغ سه ملیارد دالر پول دولتي را اختلاس نموده و به حسابات بانکي خود در خارج انتقال داده اند.

تنظیم کننده گان امور بانکي سویس گفتند که شش بانك آنکشور حسابات بانکي سونیا را تسلیم شده اند.

دولت انگلستان خواستار تغییرات در فعالیت نیرو هاي حافظ صلح ملل متحد گردید

منابع خبري - باختر :

دولت انگلستان دیروز خواستار تغیرات اساسي در فعالیت هاي حافظ صلح سازمان ملل متحد گردید.

بگزارش منابع خبر رساني بین المللي دولت انگلستان این تقاضا را در جلسه خاص سازمان ملل متحد در نیویارك مطرح کرد.

در یك گزارش که دیروز منتشر گردید دولت انگلستان گفته است که قواي حافظ صلح سازمان ملل متحد به آموزش دهي بهتر نیاز دارد .

رابین کوك وزیر امور خارجه انگلستان گفته است که یك مرکز آموزش دهي باید براي قواي حفاظ صلح سازمان ملل متحد ایجاد گردد تا قواي حافظ صلح بطور موثر تحت آموزش نظامي قرار گیرند.

وي گفت : فعالیت هاي قواي حافظ صلح ملل متحد اخیراً در سیرالیون روانډا و یوگوسلاویاي سابق با یك سلسله کمبودیها و کوتاهي ها مواجه بوده است.

د یوی شدیدی زلزلی له امله :

د امریکا په کلیفورنیا ایالت کی اضطراری حالت اعلام شو

نړیوالي خبري منابع - باختر

د امریکا د متحده ایالاتو د کالیفورنیا ایالت د ناپا په ښار کی د زلزلی له ټکانونو وروسته په دغه ښار کی اضطراری حالت اعلام شو.

د امریکا د ناپا په ښار کی په دی وروستیو وختو کی د ریکتر په مقیاس د پنځه اعشاریه دوو درجو په سختوالی د زلزلی ټکانونه احساس شول چی په نتیجه کی یی څه د پاسه شل تنه ټپیان شول.

د کلیفورنیا ایالت مقامتو د ناپا ښار اوسیدونکو ته خبر داری ورکړ ددی امکان شته چی د غه زلزله راتلونکی ټکانونه هم په ځان پسی ولری. دغه زلزله په سیمه ییز وخت ورمه شپه په یوه نیمه بجه شروع شوه.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press